# دامیرِ اهلِسُنَّت نه د زکوٰۃ په باره کښې سوال او جواب

## (قسط:۱)

پښتو



زکوٰۃ کله فرض کیږي؟

په استعمالیدونکي کالي باندې د زکوٰۃ حُکم

آیا زکوٰۃ د نغد رقم سره ادا کیږي؟

د ورور او خور یو بل له زکوٰۃ ورکول څرنګه دي؟

د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت، بانئ دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو لیکلې ګلدسته


پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

دا رساله د امیرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه په شوؤ سوالونو او د هغې په جوابونو باندې مشتمله ده۔

# د امیرِ اهلِسُنّت نه د زکوٰۃ په باره کښې شوي سوالونه او جوابونه (قسط: 1)

## د عِلمِ دین فضیلتونه

**دُعائے جانشینِ عطار:** یا رَبَّ المصطفٰے ! څوک چې دا رساله " د امیرِ اهلِسُنّت نه د زکوٰۃ په باره کښې شوي سوالونه او جوابونه " اولولي که واوري هغوئي له د واجبو او نفلي صدقو ادا کولو توفیق ورکړې او د هغوئي په مال او عمر کښې برکت واچوې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک:** فرض حج کوئ، بے شکه د دې اجر په شلو غَزواتو کښې د شرکت کولو نه زیات دے او په ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک لوستل د دې برابر دے۔

(مسند فردوس، 339/1، حدیث:2484 )

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

سوال: د زکوٰۃ نه ورکولو څه نقصانونه دي؟

جواب: د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے، په وَچه او لمده، په دریاب کښې، په زمکه کښې، په سمندر کښې چې کوم مال ضائع شوے دے هغه د زکوٰۃ نه ورکولو په وجه تباه شوے دے- (مجمع الزوائد، 3/ 200، حديث: 4335) په یو بَل ځائے کښې ئې ارشاد اوفرمائیلو: د زکوٰۃ مال چې په څه کښې ګډ شوے وي (یعني مکس شوے وي) هغه به تباه او برباد کړي-
(شعب الایمان، 243/3، حدیث: 3522) (ملفوظات امیر اہل سنت، 73/7)

سوال: زکوٰۃ کله فرض کیږي؟

جواب: که چرې د چا سره د ژوند د ضرورتونو مثلاً د اوسیدو د پاره د کور، د سورلئ د پاره د ګاډي، د کاریګر د پاره اوزار وغیره نه د زیاتو دوه پنځوست نیمو تولو سپینو زرو مالیت مالِ نامي راشي (او نور شرطونه پوره شي) نو په هغه باندې زکوٰۃ فرض کیږي- دې سره سره زکوٰۃ په دریو څیزونو باندې فرض کیږي: وړومبے څیز ثمنِ اصلي یعني سره زر، سپین زر او نعدي- که چرې دا د ژوند د ضرورتونو نه زیات وي نو په دې باندې زکوٰۃ فرض کیږي- دویم څیز د تجارت مال او دریم څیز څرووونکي ځاروي کومو ته چې د فِقهې په اصطلاح کښې "سائِمه" وئیلے شي- (بدائع الصنائع، 2/ 75، فتاویٰ هندیه، 1/ 174) اګر چې د دې ځاروو سره د هر چا واسطه نه راځي، خو په فقه کښې د دې هم پوره باب موجود دے- تاجران حضرات یا هغه زنانه د کومو سره چې د سرو سپینو زرو کالي موجود دي او د دې مالیت نِصاب ته رسي نو زکوٰۃ به پرې فرض وي- که چرې د چا

سره صرف سره زر دي نو په اووه نیمو تولو سرو زرو باندې به زکوٰة فرض وي او که چرې څه سره زر دي او څه سپین زر او څه رقم هم موجود دے اګر چې یوه روپۍ ولې نه وي نو دا ټول به راجمع کولے شي او مالیت به ئې معلومولے شي، که چرې دا مالیت د دوه پینځوست نیمو تولو سپینو زرو د رقم برابر جوړیږي او په دې ټول کال تیر شوے دے نو زکوٰة به پرې فرض شي- د زکوٰة مقدار د ټول مال دوه نیم فیصده دے یعنې په سلو روپو کښې به دوه نیمې روپۍ زکوٰة جوړیږي-[1]

**سوال:** په کال پوره کیدو باندې زکوٰة فرض کیږي، خو سرمایه دارې طبقې بلکه په نظر راتلونکو مزهبي خلقو ته هم دا معلومه نه وي چې د زکوٰة فرض کیدو د پاره د کال د پوره کیدو نه څه مُراد دے؟ خاص طور سرمایه داره طبقه دا ګڼي چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې زکوٰة ورکول وي، څکه په دې باره کښې راهنمائي اوفرمائیئ-

**جواب:** مشهور هم دا دي او خلق هم دا ګڼي چې زکوٰة په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې ورکول پکار دي، حالانکه داسې نه ده- یاد ساتئ! کله چې هم څوک صاحبِ نِصاب شي او د زکوٰة په شرطونو پوره شي نو که هغه تاریخ

---

[1]---- صدرُ الشریعه، بدرُ الطریقه حضرت علامه مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زکوٰة واجب کیدو شرطونه ذِکر کوي او فرمائي: د زکوٰة واجب کیدو 10 شرطونه دي: (1) چې مسلمان وي (2) بلوغ (بالغ وي) (3) عاقل وي (4) آزاد وي (5) مال بقدرِ نصاب د هغه په ملکیت کښې راتلل، که چرې د نصاب نه کم دے نو زکوٰة به واجب نه وي (6) په پوره طور د دې مالک وي یعنې په دې ئې قبضه هم وي (7) د نصاب د دَین نه فارغیدل (8) د نصاب د حاجتِ اصلیه نه فارغیدل (9) مالِ نامي کیدل یعنې زیاتیدونکے که په حقیقت کښې زیاتیږي یا په حکم سره (10) کال تیریدل، د کال نه مُراد قمري کال دے یعنې د سپوږمۍ د میاشتو دولس میاشتې-(بهارِ شریعت، 875/1، حصه: 5 ماخوذاً)

د رَمَضَانُ المُبَارَک وي که د مُحَرّمُ الحَرام شریف، که هغه هره یوه میاشت وي په کال پوره کیدو به زکوٰة فرض کیږي، مثلاً که چرې یو کَس د مُحَرَّم الحَرام شریف په دویم تاریخ غرمه 12 منټه د پاسه 12 بجې صاحبِ نصاب شو نو اوس چې کله د راتلونکي کال د مُحَرَّمُ الحَرام شریف په دویم تاریخ د غرمې 12 منټه د پاسه 12 بجې شي نو په هغه باندې به زکوٰة فرض شي، ولې چې په کال کښې نصاب بالکل ختم شوے نه وي اګر چې په دې کښې کمے زیاتے راغلے وي، ځکه که چرې اوس دا کَس د رَمَضَانُ المُبَارَک انتظار کوي چې په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې زیات ثواب میلاؤیږي، ځکه به په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې زکوٰة ورکووم نو ګنهګاریږي به- (فتاویٰ هندیه، 1/ 170 ماخوذاً) د زکوٰة وخت چې څنګه پوره شي نو که چرې څه خنډ نه وي نو حقدار ته به فوراً زکوٰة ادا کول وي- کوم خلق چې په ټوټو ټوټو [یعني لږ لږ] کښې زکوٰة ادا کوي او د ځان خوا له خلق راجمع کوي او لس لس روپۍ تقسیموي، کیدے شي چې د داسې تقسیمولو سره هغه خوند اخلي، خو د هغه د زکوٰة ادا کولو دا طریقه صحیح کیدل ضروري نه ده- که چرې خوک په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې دې د پاره زکوٰة ورکول غواړي چې ثواب زیاتیږي نو هغوئي په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې مخکښې زکوٰة ورکولے شي- (فتاویٰ هندیه، 176/1) مثلاً چې کوم کَس د مُحَرَّمُ الحَرام په دویم تاریخ د غرمې 12 منټه د پاسه په 12 بجې صاحبِ نصاب وو هغه دې (د کال پوره کیدو نه) درې میاشتې مخکښې په

رَمَضَانُ المُبَارَک کښې مخکښې زکوٰۃ ادا کړي-[1]

**سوال:** ډیر خلق داسې دي د کومو چې غټ غټ کاروبارونه دي خو هغوئي د دې خبرې نه خبر نه وي چې هغوئي کله صاحبِ نصاب شوي دي؟ نو آیا هغوئي خپل دا ذهن جوړولے شي چې هغوئي هر کال د رَمَضَانُ المُبَارَک په وړومبئ نیټه د خپل مال زکوٰۃ ادا کوي؟

**جواب:** نه جي! که چرې هغوئي د رَمَضَانُ المُبَارَک نه مخکښې مثلاً په شَوَّالُ المُکرَّم یا ذُوالقعدةِ الحَرَام کښې صاحبِ نصاب شوي وي نو اوس چې هغوئي لس یولس میاشتې پس په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې زکوٰۃ ادا کوي نو ګنهګاریږي به- هغوئي له غالب ګُمان کول پکار دي چې په هغوئي باندې په کومه ورځ زکوٰۃ فرض شوے وو او بیا چې ئې په کوم ځائے خیال اودریږي چې په هغوئي باندې په هغه ورځ زکوٰۃ فرض شوے وو نو بیا دې د هغې ورځې په حساب سره زکوٰۃ ادا کړي- یاد ساتئ! په چا باندې چې زکوٰۃ فرض دے په هغه باندې د زکوٰۃ د ضروري حکمونو نه خبریدل هم فرض دي- نن سبا خو دنیائي تعلیم خو ډیر زده کولے شي، سکول، کالج او یونیورسټي بلکه د امریکې او د جرمنې د تعلیمي ادارو پورې ډګریانې حاصلولے شي، خو که نه زده کولے کیږي نو لمونځ نه زده

---

[1]--- زکوٰۃ د کال پوره کیدو نه مخکښې هم ادا کیدے شي، د کال په پوره کیدو به د دې مال زکوٰۃ بیا نه فرض کیږي- آؤ که چرې په مال کښې څه کمے زیاتے اوشو نو د هغې دې حساب اولګوي څومره چې زیات جوړیږي هغه دې په کال پوره کیدو باندې فوراً ادا کړي او که چرې مال کم شو نو چې څومره زیات ادا کړے شوے وو هغه د بَل کال په زکوٰۃ کښې هم شمیرلے کیدے شي- (فتاویٰ اہل سنّت، احکام زکوٰۃ، ص 150-151)

کولے کیږي، اودس نه زده کیږي او هغه ضروري مسئلې نه زده کیږي چې د کومو زده کول فرض وي او د نه زده کولو په وجه بنده ګنهګاریږي-
(ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سُنَّت، 6/ 28)

سوال: آیا د زکوٰۃ د پاره نعد رقم ورکول ضروری دی؟

جواب: د زکوٰۃ د پاره نعد رقم ورکول ضروری نه دي بلکه څه څیز هم د مارکیټ د ویلیو [قدر] په حساب سره په زکوٰۃ کښې ورکړے کیدے شي- مثلاً په ما باندې زکوٰۃ فرض شو، د کوم رقم چې لس زره (10،000) روپۍ دے او زما سره سوټ پیس پروت دے کوم چې د مارکیټ ریټ په حساب سره د دوه نیمو زرو (2500) روپو دے، که چرې زه هغه سوټ پیس د زکوٰۃ په طور چا شرعي فقیر له ورکړم نو زما د ټول زکوٰۃ دوه نیم زره (2500) روپۍ به ادا شي- دغه شان که چرې صوفه سیټ وي او لوښې هم پراته وي نو د دې په ذریعه هم زکوٰۃ ادا کیدے شي- د دې سره سره که چرې غَله پرته وي یا د روژه ماتي د پاره د شربت ښکلې بوتلې پرتې وي نو د مارکیټ ویلیو په حساب سره د دې په ذریعه به هم زکوٰۃ ادا شي او څوک شرعي فقیر به د دې څیزونو په زکوٰۃ کښې د اخستو نه هم منع نه کوي بلکه په خوشحالۍ خوشحالۍ به ئې ښکلوي او اخلي به ئې-

یاد ساتئ! زکوٰۃ په هر حال کښې ورکول دي، ځکه دا خیال د ذهن نه اوباسئ چې په زکوٰۃ کښې صِرف رقم ورکول وي، حالانکه که چرې تاسو اوغواړئ نو په زکوٰۃ کښې قلم او پیډ هم ورکولے شئ، د دکان مال هم ورکړے کیدے شي- البته چې کوم څیز هم په زکوٰۃ کښې ورکوئ د هغه

خيز ماليت د مارکيټ ريټ په حساب سره اولګوئ او چې هغه خيز مالِ مُتَقَوِّم وي-[1]

(ملفوظاتِ اميرِ اهلِ سُنَّت، 4/ 115)

**سوال:** په 1000 روپو باندې به څومره زکوٰة کيږي؟

**جواب:** 25 روپۍ زکوٰة کيږي- که چرې په اوسني وخت کښې د چا سره 1000 روپۍ د حاجتِ اصليه نه زياتې موجودې وي نو په هغه باندې زکوٰة نه کيږي، د زکوٰة فرض کيدو د پاره نور رقم (يعني د نِصاب مقدار) پکار دے-

(اميرِ اهلِ سُنّت، 4/ 115)

**سوال:** د رقم ورکولو په وخت ئې د زکوٰة نيت نه وو کړے وروستو ورياد شو اوس څه اوکړي؟

**جواب:** د زکوٰة ورکولو د پاره نيت فرض دے، خو که چرې چا د نيت کولو نه بغير د زکوٰة رقم ورکړو نو شريعت په دې کښې دا ګنجائش ساتلے دے چې تر څو پورې هغه رقم زکوٰة اخستونکي لګولے نه وي تر هغې پورې دا زکوٰة ورکوونکے د زکوٰة نيت کولے شي، د ده زکوٰة به ادا شي- که چرې هغه رقم زکوٰة اخستونکي لګولے وي نو اوس نيت نشي کيدے- (در مختار معر رد المحتار، 3/ 222) لکه څنګه چې چا د زکوٰة حقدار له 100 روپۍ ورکړې خو د زکوٰة نيت ئې اونکړو نو تر څو پورې چې دا 100 روپۍ د ده سره بِعَينِہٖ موجودې دي او هغه په دې رقم باندې هيڅ خيز نه دے اخستے نو

[1] --- مالِ مُتَقَوِّم: هغه مال کوم چې جمع کيدے شي او شرعاً د هغې نه ګټه اخستل مُباح وي-(رد المحتار، 8/7)

اوس د زکوٰة نيت کيدے شي او که چرې رقم ئې اولګولو نو نيت نشي کيدے-

(ملفوظات امير اہل سنت، 4/ 69)

سوال: آيا مخکښې زکوٰة ورکړے کيدے شي؟

جواب: آؤ جي- (د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ سره په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) په چا باندې چې زکوٰة فرض شوے دے هغه د مخکښې نه زکوٰة ورکولے شي- په دې کښې به دا ضروري وي چې کوم وخت د زکوٰة کال پوره کيږي، تر هغه وخته پورې که چرې د ادا کړے شوي زکوٰة نه زيات زکوٰة جوړيږي يعني مخکښې ئې زکوٰة ورکړے وي او د هغې نه پس مال لږ زيات شوے وي، د هغې حساب دې اوکړي او د باقي پاتې مال زکوٰة دې هم ادا کړي-

(فتاویٰ هنديه، 1/ 176، بهارِ شريعت، 1/ 891، حصه 5)(ملفوظاتِ اميرِ اهلِ سُنت، 5/ 126)

سوال: آيا په استعماليدونکو کالو باندې هم زکوٰة لازمي دے؟

جواب: سره او سپين زر که استعماليږي او که نه، په شرطونو پوره کيدو په دې باندې زکوٰة فرض کيږي- (بهارِ شريعت، 1/ 882، حصه: 5) کومې زنانه چې د سرو زرو کالي اچوي په دې به هم زکوٰة ورکول وي ولې که شرطونه پوره کيږي- (فتاویٰ رضويه، 10/129 ـ فتاویٰ اهل سنت، احکام زکوٰة، ص 333) (ملفوظات امير اهل سنت، 7/ 15)

سوال: په چا باندې چې حج فرض شو هغه به زکوٰة ورکوي که حج به کوي؟

جواب: که چرې د زکوٰة تر حده پورې د هغه سره مال شته او د زکوٰة تاريخ

راغلے نو زکوٰة پرې فرض شو- ظاهره ده چې اوس به هغه ته د خپل مال ثلویښتمه حصه په زکوٰة کښې ورکول وي او که حج فرض وي نو حج به هم کول وي-

(ملفوظات امیر اهلِ سُنت، 3/ 62)

سوال: زمونږ سره پينځه تولې سره زر او لس تولې سپين زر دي، آيا مونږ ته به زکوٰة ورکول وي؟

جواب: د پينځوؤ تولو سرو زرو او د لسو تولو سپينو زرو رقم چې يو ځائے کړې نو دا د دوه پنځوست نيمو تولو سپين زرو رقم نه ډير زيات رقم جوړيږي، ځکه د دې سره سره که چرې نور شرطونه يعنې کال پرې تيريدل وغيره پوره شول نو زکوٰة به فرض شي- (بحر الرائق، 2/ 397، فتاویٰ اهل سنت، احکام زکوٰة ص، 213 ملخصا) (ملفوظات امير اهلسنت، 5/ 214)

سوال: يوې کونډې زنانه له چا د کور اخستو د پاره 4 لاکهه روپۍ ورکړې، که چرې په دې رقم باندې يو کال تير شي نو آيا د دې زکوٰة به ورکول وي؟

جواب: څلور لاکهه روپۍ د کونډې زنانه په ملکيت کښې راغلې دي، ځکه که چرې دا رقم د حاجت نه زيات دے نو په دې باندې به زکوٰة فرض شي- په بعضې خلقو باندې زکوٰة ويستل فرض وي او هغوئي دا سوچ کوي او زکوٰة نه اوباسي چې په کور کښې پيغله لور ناسته ده، ځکه چې کله د دې فرض يعنې د واده وغيره نه فارغ شم نو بيا به زکوٰة ورکووم- حالانکه چې کله هم زکوٰة فرض شو نو که په کور کښې لور ناسته هم وي زکوٰة به ورکول وي- دغه شان که چرې چا د غوثِ پاک د نياز د پاره

پیسې جمع کړې او د زکوٰة ویستو وخت راغلے نو د دې به هم زکوٰة ورکول وي (ولې چې هغه صاحبِ نصاب وي او په نورو شرطونو باندې پوره وي)-
(ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 6/ 213)

سوال: په ډیرو مالدارو خلقو باندې کروړونه روپۍ زکوٰة فرض وي خو هغوئي دا وائي چې په لاس کښې مو پیسې نشته نو مونږ زکوٰة څرنګه ورکړو؟ د دوئي په باره کښې څه ارشاد اوفرمائیئ-

جواب: د زکوٰة ادا کولو د پاره کرنسي په لاس راتلل ضروري نه ده- کپړه، جامې، قلم، کاپیانې، صوفه، پالنګ او د کور پردې یعني هر هغه څیز کوم ته چې مالِ مُتَقَوِم وئیلے شي، د کوم په ذریعه چې پیسې راځي او په هغه څیز کښې څه شرعي خرابي هم نه وي یعني هغه مال جائز وي نو داسې مال هم په زکوٰة کښې ورکړے کیدے شي[1] بلکه ورکول به وي لکه چې غَله دا هم په زکوٰة کښې ورکړے کیدے شي-

(په دې موقع باندې نګرانِ شوریٰ اوفرمائیل:) د دې خلقو سره هغه سره زر او سپین زر موجود وي په کوم چې زکوٰة فرض شوے وي، په دُکان یا ګودام کښې ئې د تجارت مال پروت وي او په کور کښې هغه سامان موجود وي په کوم باندې چې زکوٰة فرض شوے وي- د کروړونو روپو پلاټونه ئې د تجارت په طور باندې اخستي وي خو د دوئي په دماغو کښې دغه خبره ناسته وي چې پیسه ګیره ده، د کوم ځائے نه زکوٰة ورکړو؟ د دوئي دا ذهن

[1] ---- د کوم څیز نه چې زکوٰة ادا کړے شي د هغه مالِ مُتَقَوِم کیدل ضروري دي که هغه د دې مال د جنس نه وي په کوم باندې چې زکوٰة واجب شو یا د دې نه علاوه وي- (بدائع الضائع، 2/ 146 ملتقطا)

ولې نه جوړيږي چې د خپل هغه مال نه د سرو سپينو زرو يا مال نه هم هغه همره حصه زکوٰة ادا کړي-

(اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اوفرمائيل:) خلقو له سوچ پکار دے چې هغوئي خو خپل خوراک څښاک نه پريږدي، که ريفريشمنت کول وي نو هغه هم کوي، د خپلې ځان آسانئ ټول کارونه به کوي خو چې چرته د الله پاک په لار کښې د ورکولو خبره راشي نو پيسې نشته! بهر حال د زکوٰة ورکولو د پاره کرنسي شرط نه دے، د خپل ځان سره په موجود مال کښې هم زکوٰة ورکولے شئ- که چرې سره زر دي نو د هغې نه زکوٰة ادا کړئ، هسې نه چې داسې نه وي چې د قيامت په ورځ هغه په اور کښې توده کړے شي او داغ درکړے شي-[1]

(ملفوظاتِ امير اهلِ سُنت، 7/ 72)

سوال: دلته خلق په رَجَبُ الْمُرَجَّب، شَعبَانُ الْمُعظَّم او خاص طور په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې زکوٰة ادا کوي نو په دې مياشتو کښې بعضې خلق د زکوٰة پيسې را اوباسي او په خپلو دفترونو يا دُکانونو کښې ئې کيږدي او

---

[1] --- لکه څنګه چې په قرآنِ مجيد کښې دي: (وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۴﴾ يَّوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ؕ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ﴿۳۵﴾) (پ 10، التوبه: 34-35) ترجَمهٔ کنزُ الايمان: او هغوئي چې کوم راجمع کوي او ساتي سره زر او سپين زر او هغه د الله پاک په لار کښې نه لګوي هغوئي ته زيرے ورکړه د دردناک عذاب- په کومه ورځ چې به هغه تودولے شي د دوزخ په اور کښې بيا به په هغې داغي د هغوئي تندي او اړخونه او ملاګانې دا دے هغه کوم چې تاسو د ځان د پاره جمع کړي وو اوس مزه اوڅکئ د دې جمع کولو-

کله چې څوک سوالګيرے راځي نو د زکوٰة د مال نه څه رقم را واخلي او هغوئي له ئې ورکړي نو آيا په دې طريقه به زکوٰة ادا شي؟

**جواب:** که چرې هغه فقير ښکاري او هغه له ئې زکوٰة ورکړو نو زکوٰة به ادا شي-

(په دې موقع باندې په مدني مذاکره کښې شريک مفتي صاحب اوفرمائيل:)

سوالګيرے که چرې د فقيرانو سره راغلے د کومې نه چې د هغه د غريبئ پته لګي نو په دې حالت کښې به زکوٰة ادا شي او که چرې په سوالګيري کښې د غريبئ نخښې نه ښکاري نو اوس به زکوٰة ورکوونکي له سوچ پکار وي-[1] نن سبا خلق يا خو د زکوٰة نه ځان خلاصوي يا د زکوٰة ورکولو په وخت توجو نه ساتي او ډير ځل داسې کيږي چې کوم سوالګيري راځي په هغوئي کښې ډير ګسان قطعاً د زکوٰة حقدار نه وي بلکه په هغوئي کښې خو بعضې هډو مسلمانان نه وي، خو خلق ډير د زکوٰة مال هغوئي له ورکوي- دغه شان بعضې خاص کړے شوؤ کورونو ته هر قِسمه خلق راځي او هغوئي قطارونه جوړوي او هغوئي له زکوٰة ورکوي او د دې

---

[1] --- صدرُ الشَّريعه، بَدرُ الطَّريقه حضرت علّامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: چا چې تَحرّي اوکړه يعنې سوچ ئې اوکړو او په زړه کښې ئې دا خبره راغله چې زکوٰة ورکولے شي او زکوٰة ئې ورکړو وروستو ظاهره شوه چې هغه د زکوٰة مَصرف دے يا څه پته ئې اونه لګيده نو ادا شو- او که بغير د سوچ نه ئې ورکړو يعنې دا خيال ئې هم رانغلو چې هغه له ئې ورکولے شي که نه او وروستو معلومه شوه چې هغه له ئې نشو ورکولے نو ادا نه شو، ګني نو شو او که چرې د ورکولو په وخت شک وو او تحرّي ئې اونکړه يا ئې اوکړه خو په چا ئې زړه اوبه اونخکلې يا ئې تحرّي اوکړه او غالب ګمان ئې دا راغلے چې دا د زکوٰة مصرف نه دے او ور ئې کړو نو په دې ټولو صورتونو کښې ادا نه شو خو که چرې د ورکولو نه پس دا ظاهره شوه چې واقعي هغه د زکوٰة مصرف وو نو اوشو- (بهارِ شريعت، 1/ 932، حصه: 5 ملتقطا)

خبرو بالکل خیال نه ساتي چې اخستونکے مسلمان هم دے او که نه؟ بس د هغوئي دا عادت جوړ وي چې هر کال به دلته رَش جوړيږي او څوک چې د اخستو د پاره راځي مونږ ته هغوئي له پیسې ورکول دي- د زکوٰۃ د ورکولو دا طریقه بالکل غلطه ده او د زکوٰۃ د مقصدونو ختموونکې ده، ځکه چې څوک مستحق وي هغه ته زکوٰۃ رَسَوَل پکار دي-

(ملفوظاتِ امیر اهلِ سُنت، 2/ 264)

سوال: زکوٰۃ چا له ورکړے کیدے شي؟ ما اوریدلي دي، که چرې د چا سره صرف یوه توله سره زر وي نو هغه له زکوٰۃ نشي ورکړے کیدے، حالانکه ما داسې کونډې زنانه لیدلي دي د کومو چې لونړه هم وي او پینځلس شل زره روپۍ د میاشتې راځي په دې باندې په مشکله گزاره کوي-

جواب: زکوٰۃ هغوئي له ورکړے کیدے شي کوم چې په شرعي طور فقیر وي او هاشمي نه وي- (درمختار، 3/ 203، 206 ماخوذا) څوارلس پینځلس زره روپۍ میاشت راځي او یوه توله سره زر موجود دي دې څیزونو ته کتل ضروري نه دي- کیدے شي چې د هغوئي سره یوه توله سره زر څو وي خو هغوئي د دې نه زیات قرضداري وي بیا به هم هغوئي د شرعي فقیر په زمره کښې راځي-

(ملفوظات امیر اهلِ سُنت، 2/ 434)

سوال: کوم کَس چې تقریباً د میاشتې 10 زره روپۍ گټي او د هغه سره د دوه پنځوست نیمو تولو سپین زرو برابر مال هم نه وي نو آیا هغه له زکوٰۃ ورکړے کیدے شي؟

جواب: په زکوٰۃ کښې دې ته نه کتلے کیږي چې انسان کمه گټه کوي که زیاته د دې سره سره لس شل زره روپۍ آمدن هم د زکوٰۃ په شرطونو کښې

شامل نه دے، ځکه چې بعضې وخت انسان 50 زره کټې خو د غټ خاندان په وجه او د زیاتو خرچو په وجه د هغه د پاره 50 زره هم کافي نه وي- بهر حال که چرې هغه په شرطونو باندې پوره وي نو زکوٰۃ اخستے شي کنې نه ئې شي اخستے-[1]

(ملفوظات امیر اهل سنت، 6/ 245)

سوال: زما د خور 5 واړه بچي دي او د هغې خاوند بے روزګاره دے نو آیا زه هغې له خپل زکوٰۃ او د سرسایه رقم ورکولے شم؟

جواب: خور وررور خپل مینځ کښې یو بَل له زکوٰۃ ورکولے شي خو چې د زکوٰۃ حقدار وي-

(فتاویٰ رضویه، 10/ 110 ماخوذاً) (ملفوظات امیر اهل سنت، 2/ 394)

سوال: آیا عَلَوي له زکوٰۃ ورکړے کیدے شي؟

جواب: عَلَوي له زکوٰۃ نشي ورکړے کیدے ځکه چې هغه هاشمي دے-[2]

(ملفوظاتِ امیر اهلِ سُنّت، 4/ 235)

سوال: آیا عَلَوي هم سیدان وي؟ په عَلَوي او سید کښې څه فرق دے؟

---

[1] --- د زکوٰۃ اخستو حقدار شرعي فقیر دے، شریعتِ مُطَهَّره د شرعي فقیر کیدو یو خاص معیار بیان کړے دے- هم دغسې د زکوٰۃ حقدار کیدو بنیادي شرط دا دے چې بالغ کَس د حاجتِ اصلیه نه د زیات یا کم از کم د نصاب د مقدار مالک نه وي، د نصاب مقدار د دوه پنځوست نیمو تولو سپین زرو رقم دے- ځکه که چرې د چا سره د حاجتِ اصلیه نه زیاتي کپړې وي یا زیات خیزونه وي مثلاً ټي وي وي او د هغې شریک قیمت د دوه پنځوست نیمو تولو سپینو زرو د رقم برابر ته اورسي نو داسي کَس د زکوٰۃ حقدار نه دے- (فتاویٰ اهل سنت، کتاب الزکوٰۃ ، ص 447)

[2] --- د بنو هاشم او د بنو عبد المطلب نه مُراد پینځه خاندانه دي، آلِ علي، آلِ عباس، آلِ جعفر، آلِ عقیل، آلِ حارث بن عبد المطلب- د دې نه علاوه کوم چې د نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اعانت اونکړو مثلاً ابو لَهَب اګر چې دا کافر هم د حضرت عبد المطلب ځوي وو خو د دوئي اولاد به په بني هاشم کښې نه شمیرلے کیږي- (فتاویٰ هندیه، 1/ 189)

**جواب:** د حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې د بي بي فاطمې رَضِیَ اللہُ عَنْہما نه کوم اولاد دے یعنې د حضرت امام حسن او امام حسین رَضِیَ اللہُ عَنْہما نه چې کوم نسل را روان دے، هغوئي ته سید وئیلے شي- (اجمال ترجمه اکمال هامش علی مراٰة المناجیح، 8/ 102) تر څو پورې چې بي بي فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا ژوندئ وه تر هغې پورې حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته د حضورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د طرف نه د دویمې نکاح اجازت نه وو- (مراٰة المناجیح، 8/ 456) کله چې د بي بي فاطمې رَضِیَ اللہُ عَنْہا وصال اوشو نو حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دویمه نکاح اوکړه- د هغې نه چې کوم نسل را روان دے هغوئي ته علوي وئیلے شي، دا صرف هاشمي دي، سید نه- سید او علوي دواړه هاشمي دي او دا دواړه زکوٰۃ نشي اخستے-

(بهارشریت، 1/ 931، حصه: 5) (ملفوظات امیر اہل سنت، 7/ 207)

**سوال:** آیا سید خپلې غریبې خور له زکوٰۃ ورکولے شي؟

**جواب:** زکوٰۃ ورکوونکے که سید وي او که سید نه وي دواړه سید له زکوٰۃ نشي ورکولے او نه سید زکوٰۃ اخستے شي- (بهار شریعت، 1/ 931، حصه: 5) که چرې سید پخپله صاحبِ نصاب وي نو د زکوٰۃ په نورو شرطونو باندې به هم سید صاحب ته زکوٰۃ ویستل وي-

(ملفوظات امیر اهل سنت، 1/ 408)

**سوال:** د زکوٰۃ ورکولو په وخت ورته دا معلومه نه وه چې سید دے او هغوئي له ئې زکوٰۃ ورکړو، وروستو ورته د دې خبرې پته اولګیده نو څه به کوي؟

**جواب:** که د زکوٰۃ ورکولو په وخت ورته دا پته نه وه چې سید صاحب دے او هغوئي ئې د زکوٰۃ مستحق اوګڼل او زکوٰۃ ئې ورکړو نو دا زکوٰۃ به ادا

شي- (رد المحتار، 3/ 353) نن سبا خلق غور او فِکر هم نه کوي چې ورومبے ئې ښه اوګوري، چې آیا مخامخ ګس د زکوٰۃ حقدار دے او که نه، بس چې څوک معذوره یا نابینا یا اخوا دیخوا څوک ګس په نظر راغلے هغه له د زکوٰۃ رقم ورکوي بلکه بعضې خو د مخامخ ګس نه پوښتنه کوي چې آیا زکوٰۃ به اخلې؟ که هغه مالداره ولې نه وي-

بهر حال چې کله زکوٰۃ ورکوئ نو معلومات کول پکار دي، خو چې چا له زکوٰۃ ورکوئ که چرې هغه حقدار وي نو د هغه نه پوښتنه نه دي کول پکار چې زکوٰۃ به اخلې؟ نه هغه ته وئیل پکار دي چې دا زکوٰۃ دے چې د دې سره د عِزتِ نفس مسئله وي-

(ملفوظات امیر اهل سنت، 6/ 208)

سوال: بعضې خلق د غریبئ باوجود د زکوٰۃ ، صدقو یا غوښې وغیره اخستو نه انکار کوي، هغوئي له دا خیز څرنګه ورکړے شي؟

جواب: سپین ږعې خلق د زکوٰۃ اخستو نه ویریږي، ځکه هغوئي له د زکوٰۃ وئیلو سره نه دي ورکول پکار، دا هم مه وائیئ چې دا زکوٰۃ نه دے بلکه ډالئ ورته اووائیئ او ورکړئ یا په خُله باندې هیڅ هم مه وائیئ- که چرې څوک حقدار دے نو هغوئي ته د صدقې یا زکوٰۃ وئیلو سره ورکول ضروري هم نه دي-

(فتاوىٰ هندیه، 1/ 171)

په زړه کښې د زکوٰۃ نیت کول کافي دي بلکه که چرې چا له د زکوٰۃ ورکولو په وخت نیت نه وو نو تر څو پورې چې هغه څیز د زکوٰۃ والا سره

دے او هغه تر اوسه پورې نه دے خوړلے نو اوس هم د زکوٰة نیت کیدے شئ-
(در مختار، 3/ 222) (ملفوظات امیر اہل سنت، 2/ 134)

**سوال:** آیا داسې لاس تنګے انسان د چا په کور کښې چې د ضرورت نه زیات ځیزونه هم موجود وي، هغه زکوٰة اخستے شي؟

**جواب:** زکوٰة اخستونکو ته د ښه پوره سوچ کولو سره زکوٰة اخستل پکار دي، ځکه چې داسې هم وي چې د هغوئي سره د ژوند د ضرورتونو نه زیات ځیزونه هم وي- مثلاً د ضرورت نه زیات لوښي، د ضرورت نه زیات فرنیچر او د زیاتو جامو څو څو جوړې وي- آؤ که چرې هغه د ضرورت وي بیا خو ټیک ده، لکه د یخنۍ او ګرمۍ بیلې بیلې جوړې، دا په ضرورتونو کښې شاملې دي (رد المحتار، 3/ 347) خو ډیر زیات ځیزونه هم وي- ډیرو خلقو په کورونو کښې د لکونو روپو شو پیس (Showpiece) کیښودي وي نو دا ټول دې اوګوري چې که چرې د چا سره د ضرورت نه زیات دومره ځیزونه موجود دي د کومو رقم چې د نصاب همره وي نو داسې کَس زکوٰة نشي اخستے- (رد المحتار 3/ 346) د دې باوجود خلق د سوچ نه بغیر په مخه زکوٰة اخلي-

(په دې موقع باندې نګرانِ شوریٰ اوفرمائیل) دلته یو معمول دا جوړ شوے دے چې هر لاس تنګے غریب ګرځولے شي، یعني بنیادي طور هغه ګَس غریب نه وي، په کور کښې ئې د ضرورت هر ځیز موجود وي خو صرف روپۍ ورسره نه وي، څه ئې کاروبار ولاړ دے نو د خرچې نه لرلو

په وجه زکوٰۃ اخلي- ليدلے شوي دي چې بعضې ورورولئ چې کله د خپلې کميونټي حقدارو کسانو له زکوٰۃ ورکوي نو د کره کتنې د معياري نظام د نشتوالي په وجه داسې خلقو له هم زکوٰۃ ورکړي کوم چې د زکوٰۃ حقدار نه وي-

(ملفوظات امير اهل سنت، 7/ 71)

**سوال:** که څوک زکوٰۃ ورکړي او دا اووائي چې دا صرف د علاج د پاره دے نو آيا زکوٰۃ به ادا شي؟

**جواب:** که چرې د دې مال هغه مالک کړے شو نو زکوٰۃ به ادا شي، دا شرط لګول چې د علاج د پاره دے، دا شرط فاسِد دے- د هغه خوښه ده که هغه په دې رقم باندې علاج کوي او که نه ئې کوي، په زکوٰۃ هيڅ فرق نه پريوځي- اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: زکوٰۃ صدقه ده او صدقه د فاسِد شرط سره نه فاسده کيږي لکه چې د علاج د پاره اووائي چې دا رقم د علاج د پاره دے بلکه هغه شرط فاسد شي، مثلاً زکوٰۃ ئې ورکړو او دا شرط ئې ورسره کيښودو چې دلته به پروت وي نو در به ئې کړم ګني نه به ئې درکووم، په دې شرط ئې درکووم چې دا روپۍ په فلانکي کار کښې اولګوه په دې جُمات جوړ کړه يا د مړګ په کفنونو ئې اولګوه نو قطعاً به زکوٰۃ ادا شي او دا شرطونه به ټول باطل ګرځي- (فتاویٰ رضويه، 10/ 67) دغه شان که څوک زکوٰۃ ورکړي او اووائي چې په دې زکوٰۃ باندې فلانکے کار اوکړه او هغه زکوٰۃ قبول کړو، دا شرط به فاسد شي نو اوس د هغه خوښه ده چې هغه کار پرې کوي او که نه- داسې په هِبه کښې کيږي لکه چې څه کپړه ورکړي او اووائي چې پخپله به ئې

اغوندې، دا شرط فاسد دے، ځکه د هغه خوښه ده که هغه ئې اغوندي او که نه۔

(ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 7/ 55)

سوال: په بعضې وروڼولو کښې د زکوٰة فنډ سسټم رائج دے، د کوم په وجه چې د وروڼولئ په خلقو زور راوړے شي چې هغوئي د خپل زکوٰة رقم په دغه فنډ کښې جمع کړي، ځکه هغوئي ته مجبوراً د وروڼولئ په فنډ کښې خپل زکوٰة جمع کول وي۔ د دې رقم استعمال څه داسې کیږي چې په وروڼولئ کښې کله یو کَس وفات شي اګر چې که هغه مالداره ولې نه وي، د هغه د جنازې وغیره په انتظامونو کښې چې کوم رقم لګي هغه د دې زکوٰة د فنډ نه ورکولے شي، حالانکه هغه د دې حقدار نه وي۔ په دې باره کښې دا پوښتنه ده چې په بیان کړے شوي حالت کښې د دې فنډ د پاره زکوٰة جمع کول او بیا د زکوٰة رقم په دې طریقه استعمالول صحیح دي او که نه؟

جواب: که هره یوه اداره وي د هغوئي د پاره مشوره ده چې هغوئي دې د علمائے کرامو نه راهنمائي حاصله کړي۔ دا حقیقت دے چې د وروڼولئ په سسټم، سماجي ادارو او هسپتالونو کښې زکوٰة اخستے شي د دې غلط استعمال کیږي۔ مونږ یو ځل د وروڼولو ذِمه واران راجمع کړي وو او د هغوئي اجلاس مو کړے وو۔ ما په اجلاس کښې د هغوئي په مخکښې د زکوٰة په باره کښې بیان اوکړو چې د وروڼولئ په فنډ وغیره کښې جمع کیدونکے د زکوٰة رقم په ټولو باندې یو شان لګول صحیح کار نه دے، خو د دې هیڅ خیال نه ساتلے کیږي۔ دغه شان که څوک بیمار راځي نو

هغه ته په دغه رقم سره انجکشن وغیره لګولے شي یا ترې د ډاکټر فیس ورکولے شي، خو دا انجکشن یا هغه رقم هغه له نه ورکړے کیږي او دغه شان هغه د زکوٰۃ رقم ضائع شي، ځکه چې د زکوٰۃ ورکولو د پاره ضروري دي چې د دې رقم څوک د زکوٰۃ حقدار ګس مالک جوړ کړے شي ګنې زکوٰۃ به نه ادا کیږي- (فتاویٰ رضویہ، 10/ 255) آؤ! که چرې داسې سلسله وي چې انجکشن هغه شرعي فقیر له ورکړے شي او هغه ئې مالک جوړ کړے شي بیا هغه پخپله اووائي چې دا ماته اولګوئ نو دا به جائز وي او داسې به زکوٰۃ هم ادا شي- که چرې څوک د زکوٰۃ حقدار مریض په هسپتال کښې داخلیږي نو انتظامیه د هغه د Bed کرایه، د دویانو رقم او د ډاکټر فیس وغیره د زکوٰۃ د فنډ نه کټ کوي او داسې د زکوٰۃ د پاره جمع کړے شوے رقم ضائع کیږي، حالانکه که چرې دې خلقو رقم او دویاني د هغه شرعي فقیر مریض د ملکیت نه پس د هغه په اجازت استعمالولے نو زکوٰۃ به ادا کیدلو، خو داسې نه کیږي نو داسې چې چا دا رقم جمع کړے وي د هغه هډو زکوٰۃ نه ادا کیږي، بلکه اُلټا د ګناهونو ډیرے جوړیږي او د انتظامیې والا دا ګڼي چې مونږه د قوم خدمت کوؤ- دا هر څه د علمائے کرامو نه د راهنمائیئ اخستو نه بغیر د ګام پورته کولو نتیجه ده او دا خپل ځان په خطره کښې د اچولو والا خبره ده- کوم خلق چې داسې کارونه کوي د بده مرغه هغوئي د علمائے کرامو سره رابطه هم نه ساتي، دوئي ته خو دومره پته هم نه وي چې زکوٰۃ کله فرض کیږي؟ څرنګه ادا کړے کیږي؟ او د دې استعمال څرنګه کیږي؟ ځکه دوئي له پکار دي چې په هر ګام د علمائے کرامو نه د راهنمائیئ حاصلولو نه کار واخلي او دا خبره

په ذهين کښې کيږدي چې دا منصب صرف هم د علمائے کرامو دے- د اسلام او شريعت په معاملو کښې د خپل عقل استعمالولو په ځائے دې عالِمانو ته د دې معاملو حل کول پريږدي-

(ملفوظات امير اهل، 3/ 240)

**سوال:** وئيلے شي: چې پيسې د شميرلو سره کيږدئ کنې شيطان ئې وړي، آيا دا خبره صحيح ده؟

**جواب:** پيسې ضرور شميرل پکار دي د پاره د دې چې د زکوٰة وغيره حساب کښې آساني وي- پاتې شوه خبره د شيطان نه د بچ کولو د پاره شميرل نو دا چا هسې مشهوره کړې ده-

(ملفوظات امير اهل سنت، 2/ 514)

**نوټ:** په وړومبئ او شپږمه صفحه باندې وړومبئ پوښتنه "المدينة العلميه" د خپل طرف نه جوړه کړې ده ولې جواب د امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړے شوے دے-

## دفرمان آخري نبي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

"د خپل مال زکوٰة اوباسه چې هغه پاکوونکے دے، تا به پاک کړي۔" (مسند امام احمد، ٤/ ٢٧٤، حديث: ١٢٣٩٧)


فيضانِ مدينه، محلّه سوداګران، زړه سبزي منډي کراچۍ

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com